**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## په کوچني اختر کې د تونس چارواکو د اسلام پر بنسټ د سیاسي کار مخنیوی وکړ

**(ژباړه)**

د ۲۰۱۹م د جون په ۳مه د کایراون تر واک لاندې د بوهیجلا د مرکز دوو امنیتي کسانو د بدرالدین صفصفي او موعظ الفلاح په نامه د حزب التحریر دوه غړي په دې ګناه ونیول، چې د حزب التحریر هغه لوحې یې ښکته نه کړې چې اسلامي امت ته د اختر د مبارکۍ پیغام پکې لیکل شوی و. که څه هم یادې لوحې د محلي شورا په اجازه په یوه ټاکلي ځای کې لګول شوې وې، خو بیا هم د امنیتي کسانو لخوا په زور ښکته شوې.

دوی دواړه کسان مرکز ته یووړل. هلته یې پر امنیتي مزاحمت تورن کړل، سپکاوی یې ورته وکړ، په وهلو یې وګواښل او حتا امنیتي کسانو د روژې په مبارکه میاشت کې د دغه مذهبي دود پر وړاندې الله سبحانه وتعالی ته هم سپکاوی وکړ. په دوی پورې اړونده یوه قضیه یې ثبت کړه او په دې شرط راخوشي شول، چې د ۲۰۱۹م کال د جون په ۷مه به بېرته راځي، څو قضیه یې وڅېړل شي او څارنوالي یې په اړه حکم وکړي.

دا بې انصافي ښیي چې په تونس کې چارواکو د اسلام پر بنسټ د سیاسي فعالیتونو پر وړاندې جګړه پیل کړې، او هر اسلامي فعالیت او هڅه د دې شاهد دی چې هلته چارواکي له هر اسلامي سیاسي فعالیت څخه په وېره کې دي. حتا د اختر د مبارکۍ پیغامونه هم جرم بولي او څوک چې دا کار کوي نیول کېږي او محکمې ته لېږل کېږي!

ایا امنیتي کسان دا جرات هم کولی چې د فرانسې، برېتانیا او امریکا د سفیر د پیغام لوحه راښکته کړي؟

دا ډېره د حیرانۍ وړ خبره ده چې نوموړي چارواکي او د دوی امنیتي نوکران لا تر اوسه پر دې نه پوهېږي چې دغه حزب او غړي یې د نبوت پر منهج خلافت د بیا تاسیس لپاره شپه او ورځ کار کوي. دوی ته مهمه نه ده چې له څومره امنیتي ځورونو سره مخ کېږي او څومره غړي یې زنداني کېږي، ځکه دا یې د رب لخوا راکړل شوې دنده او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم زېری دی.

نو موږ امنيتي ځواکونو ته مخ اړوو او ورته وايو، کله چې تاسو د نړۍ د پاچاه پر وړاندې ودرېږئ، هغه مهال بيا دغه چارواکي او دولت درته هېڅ ګټه نه شي رسولی او څه شی چې هغه وخت ستاسو په درد خوري، هغه ستاسو د دين او امت په څنګ کې درېدل دي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَى يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلاً * يَا وَيْلَتَى لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَاناً خَلِيلاً * لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَاءنِي وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلْإِنسَانِ خَذُولاً﴾**

[الفرقان: ۲۷-۲۹]

***ژباړه:*** *ظالم انسان به خپل لاسونه مروړي او وايي به: کاشکې مې د پيغمبر ملګرتيا کړې وی. اې زما بده بخته کاشکې مې له فلانې سړي سره ملګرتيا نه وی کړې، هغه تېر ايستم او هغه نصيحت مې ونه مانه چې راته راغلی و. شيطان د انسان په حق کې ډېر بې وفا او غولوونکی ثابت شو.*

**حزب التحرير-ولايه تونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۰هـ ق، کال د شوال لومړی**

**۲۰۱۹م کال، د جون ۴مه**

**د صدور ګڼه: ۲۸/۱۴۴۰**

